# Is the"Dasarotawez"anoveloradrama?CriticalReview

# د "د سرو تعویذ" ناول ده که ډرامه؟ تنقیدي جائزه

Israrullahkhan*


## ABSTRACT:

The "Saro taweez" is written and printed in 1958. This work is also included in the syllabus of the M.A Pashto course of Gomal University. The story of this novel is long, and the plot is very complicated and mixed. According to some critics, the literary work is a drama, but some critics say that it is a novel. The author of this story Rashid Dehqan says that this is a drama. However, another famous Pashto writer and researcher Abdullah Jan Abid has written in his book that this is a novel. By reviewing those articles this research paper has been developed to provide a clear concept about the genre of this literary story


**Key words: Drama. Genre, plot, criticism, dramatic novel.**

د پښتو په افسانوي ادب کښې "د سرو تعویذ" یو داسې اثر دی چې چرته هم د نوي نثر ذکر کیږي نو هلته به "د سرو تعویذ" ذکر خامخا کیږي او چرته چې "د سرو تعویذ" کیږي هلته به د رشید علي دهقان ذکر خامخا کیږي، ګویا "د سرو تعویذ" او "دهقان" یو بل سره لازم او ملزوم دي.

**پیژندګلو**:

د سرو تعویذ اثر په ۱۹۵۸ کښې لیکلی او چاپ شوی دی. دویم ځل په ۱۹۷۱ کښې چاپ شوی دی او ما سره د دویم چاپ اثر دی.

دا اثر د ګومل پوهنتون د شپاړسم جماعت په نصاب کښې هم شامل دی. فني او فکري لحاظ سره د ذکر وړ دی. قیصه ئې اوږده ده،خو پلاټ ئې ډېر نغښتلی،مربوط او مرکب دی. مکالمې ئې لنډې او جامعې دي. د پلاټ په هره واقعه کښې څۀ نه څۀ تجسس ځای کړل شوی دی. په " د سرو تعویذ" کښې د

* M.Phil scholar, Acadmy of Pashto, University of Peshawar, KPK

قیصو قیصې په ډېر منطقي او فني ترتیب را یوځای کړې شوې دي چې د خوند سبب ګرځېدلې دي.په ځینې ځایونو کښې قیصه د مکالمې برخېره د بیان یا قیصه ګویۍ په شکل کښې مخکښې وړلې شوې ده خو دغه قیصه ګوئي یا بیان په ډېرو کمو ځایونو کښې او کم مقدار کښې شوی دی .

"د سرو تعویذ " ډرامه ده او کهٔ ناول؟

"د سرو تعویذ" د ځینو ناقدینو په نظر کښې ډرامه ده او د ځینو په نظر کښې ناول . د ډرامې دیباچه لیکونکي ورته ډرامه وئیلي دي . دهقان په خپله ورته ډرامه وائي . عبدالله جان عابد په خپل اردو کتاب کښې ورته ډرامائي ناول وائي"(1).

مصطفی کمال ورته ډرامه وائي او لیکي چې د دیباچې ترمخه دهقان په خپله ورته ډرامه وائي اوس که دا اثر د فن نه راغورزېږي نو ضروري نهٔ ده چې مونږ ئې راواخلو او له خپله انده ئې د پښتو ناولونو په قطار کښې واچوو"(2).

په دې کشاله کښې لطیف وهمي هم برخه اخلي او ډرامه ئې ګڼي بیا زیاتوي چې په ډرامه کښې فني کمزورۍ شته،کومې ته چې مصنف په سریزه کښې په خپله هم اشاره کړې ده او امید لرم چې د دویم ایډیشن په چاپ کولو کښې به دا کمزورۍ ترې اوویستلې شي"(3) ایوب صابر ورته ډرامه وائیلي دي"(4). د "سوبلي ستوري" لیکوال اسد قریشي ورته ناول وائي"(5). عبدالرؤف بېنوا ئې ناول ګڼي"(6).

ډاکټر انیتا اعظم وائي چې د " د سرو تعویذ " ډرامه ده ځکه چې د ډرامې ټول لوازمات پوره کوي"(7).

کاتب او ادارې چې دا اثر ئې خپور کړی دی، هغوئي هم ورته ناول وائي . د " لار" مجلې مدیر ورته ډرامه وائي او د خپرېدو نه مخکښې د" لار" لوستونکو سره ئې په دې توګه معرفي کوي:

" ډرامه د دریو زرو کالو زوړ تاریخ لري او پښتو ډرامه د دوه زرو کالو تاریخ لري رشید علي دهقان د دریو زرو کالو زوړ روایت د دوه زرو کالو زړو نخښو سره یو ځائی کوي او ترې . . . د "د سرو تعویز"... جوړوي . د "سرو تعویذ" ډرامه هم ده او ژوند هم لري او واقفیت هم افسانویت هم لري او حقیقت هم"(8).

ډاکټر حنیف خلیل ئې ناول ګڼي او لیکي چې دغه ناول په مکالماتي انداز کښې لیکلی شوی دی په دې وجه ځینو ناقدینو د ډرامې په صنف کښې اچولی دی"(9).

دلته د حنیف خلیل او عبدالله جان عابد رائې له نظره نۀ شو غورزولی . زما په خیال چې عبدالله جان عابد د ډاکټر حنیف خلیل د کتاب "پښتو ناول" په حواله ورته ډرامائي ناول وئیلي دي . ځکه چې ډاکټر حنیف خلیل د ډرامائي ناول تعریف په دې توګه کوي:

"ډرامائي ناول جاسوسي ناول سره ډېر نزدیکت لري .دې قسمه ناول کښې واقعات ډېر تېزۍ سره بدلېږي رابدلېږي او د لوستونکو تجسس په هره موقع قائم وي . ډرامائي ناول کښې د تصادم یا (conflict)مل دخل ډېر زیات وي . دې نه علاوه د دې قسمه ناول یو خصوصیت دا دی چې قیصه ټوله د مکالمو په ذریعه وړاندې بوتلې شي"(10).

دغه تعریف کوم چې حنیف خلیل کړی دی کۀ مونږ ئې حتمي او مکمل وګڼو نو خبره خلاصه ده او " د سرو تعویذ" بغېر د څۀ شک او تردد ډرامائي ناول دی خو ولې حقیقت دا دی چې د ادبي اصنافو چې څومره هم تعریفونه شوي دي یو هم په کښې حتمي نۀ دی منلی شوی،تر دې چې د ډرامې په خپله هم یو تعریف حتمي نۀ دی منل شوی . د ډرامې په اړه د ارسطو او شېکسپئیر ټاکلي شوي قواعد و ضوابط هم حتمي نۀ دي منل شوي او نۀ ئې نن سبا چا خیال ساتلی دی نو د حنیف خلیل دغه تعریف هم مونږ حتمي نۀ شو منلی او د " د سرو تعویذ" د ډرامې ثابتولو د پاره به خپل دلائل راوړو.

په دې او وړپسې لیکوالانو کښې ځینو د یو بل په حواله چا ډرامه یاده کړې ده او چا ناول.

د دواړو ډلو نظرونه تر خپله حده صحیح دي ځکه چې په ډرامه او ناول کښې په خپله ډېر لږ او معمولي غوندې فرق دی ولې چې دواړو کښې پلاټ،قیصه،کردارونه او مکالمې مشترک وي د ډرامې او ناول د فرق په اړه افضل رضا لیکي:

" کۀ فرق دی نو صرف دا چې ډرامه د ناول او ډرامې د خپلو نه د تکنیک او تشکیل بېل بېل دی دا فرق هم ځکه پېدا شوی دی چې د ادب دا اصناف د یو بل نه جدا فني حېثیت لري"(**11**).

د افضل رضا دا خبره دې لاندې اقتباس کښې کتلی شو چې څنګه تشکیل ئې شوی دی لکه د ډرامې تشکیل عموماً په داسې انداز کښې کېږي چې ګویا ډرامه نګار په کښې هدایت کاري کړې وي:

" (... معظم او زمان غلي دي...)

ملنګ: نور څۀ وغواړه

زمان: نور مې هېڅ هم نۀ دي په کار.

ملنګ: ډېره ښۀ ده. . .تېر نمانځام دلته راشه.

زمان: په سر سترګو.

(ټول ځي. . .څۀ وخت خو په تفتیش کښې تېر شي. . .او څۀ اخوا دېخوا. ماسخوتن درې واړه بیا راځي)

جمشېد: ګورو چې بابا څۀ وائي؟

معظم: په ما خو غوني زېږ زېږ کېږي. . .ګوره جمشید خانه! دا خو د ماه جبینې په قبر غوړېدلی دی.

زمان: اودۀ دی جوړ.

جمشېد: دا اودۀ کېږي نۀ.په مراقبه کښې وي.( درې واړه ورنژدې کېږي)

زمان: بابا. . . مونږ حاضر یو.

(خاموشي)

زمان: بابا مونږ په خدمت کښې حاضر شوي یو.

جمشېد: زمان خانه! لږ ورنیزدې شه.

زمان: (ورنژدې کېږي). . . هن. . .دا خو. . .

جمشېد: ولې. . . ؟

زمان: بابا. . .خو. . .جوړ. . .

جمشېد: (په حېرانۍ) مړ دی؟"(**12**).

دلته په دې برېکټونو کښې چې کوم هدایات ورکړل شوي دي نو دغه د ډرامې تشکیل او تکنیک دی او بله دا چې ځینې پوهان وائي چې ډرامه کښې د

حال او ناول کښې د ماضي خبره کېږي يعني د ناول او ډرامه کښې د وۀ، وو او وي (Was,Were) او ده يا دی يا دي (Is,Are) فرق وي نو د "د سرو تعويذ" کښې هم په حال کښې قيصه وړاندې بوتللې شوې ده.

د "د سرو تعويذ"د ډرامې لوازمات او اجزاء خو پوره کوي چې مونږ ورته ډرامه وئيلی شو خو څوک ئې چې ناول ګڼي نو د هغې درې وجوهات دا کېدی شي.( ياده دې وي چې تر اوسه يې چا وجوهات نۀ دي بيان کړي نو ځکه مونږ دا درې امکاني وجوهات راخستي دي).

۱. پلاټ ئې لکه د ناول اوږد او خور وور دی:

واقعات لکه د ناول په کښې ډېر دي او هره واقعه ئې لکه د ناول په تفصيل بيان کړی شوې ده.کېدی شي په دې وجه ئې ناول ګڼي.يعني د وحدت مکان او زمان خيال په کښې نۀ دی ساتلی شوی خو ولې دا ضروري نۀ ده چې د نن نه دوه زره کاله په خوا د ارسطو له خوا ټاکلي شوي درې وحدتونو (زمان، مکان، عمل) نن هم په پام کښې وساتو ولې چې نن سبا د سکرين او سائينس زمانه ده.په دې اړه افضل رضا ليکي:

" په کال ۱۸۲۵ء کښې ګوئيټې (GOETHE) د دې وحدتونو سخت مخالفت وکړو، شکېسپئير هم د دې څۀ خاص خيال نۀ دی لرلی، وحدت عمل بلکې درې واړه وحدتونه کۀ ضروري وګڼلی شي نو په دنيا کښې به د شکېسپئير هومره ګنهګار نۀ وي چې هغه په هره موقع او په هر ځای د وحدتونو خلاف وکړل"(13).

د وحدت مکان او زمان هغه وخت کښې ضرورت وۀ ولې چې ډرامې به په سټېج وړاندې کولې شوې نو د مکان وحدت به ځکه ضروري وۀ چې کۀ ډرامه کښې به ليکوال داسې منظرونه اوليکل چې هغې به د سمندراو وچوبې سره تعلق لرلو نو په سټېج به ممکنه نۀ وه چې د سمندر او وچوبې ماحول وړاندې کړی شي، ولې نن سبا په سکرين باندې د سائينس په ذريعه دا هر څۀ ممکن شو. بله خبره د زمان ( زمانه، وخت)مل د وحدت ده . حقيقت دا دی چې دغه وحدتونه د يوناني سټېج ميراث وو چې د دوئي مجبوري هم ورته وئيلی شو. يونانيان به په سټېج د يو عمل قائل وو او هغه هم په يو خاص وخت (زمان ) کښې، ولې نن سبا حالات او ضروريات بدل دي.

دلته خبره "د سرو تعویذ" ده چې پلاټ ئې لکه د ناول اوږد دی او د وحدتونو خیال په کښې نۀ دی ساتلی شوی نو ځکه ئې ځینې نقادان ناول ګڼي خو دا پېمانه صحیح نۀ ده.افضل رضا د شکسپئیر د ډرامو په حقله لیکي:

" د هېملټ په وړومبي باب کښې په اول او پینځم منظر کښې د دوؤ ورځو د واقعاتو ذکر دی . د دې نه پس د څو میاشتو وقفه ده. بیا د څلورم او پینځم منظر تر مېنځه د یوې هفتې وقفه ده . د دې باوجود هم د دې په تسلسل کښې هېڅ کمی بېشی نۀ دی راغلی دغه شان اوتهیلو (**Othelo**) کښې وړومبی باب په یوه ورځ کښې مکمل شي، په دوېم او درېم باب کښې څو ورځې لګي،دغه شان د میکبث(**MACBETH**) عمل نور هم اوږد وخت واخلي خو د حېرانتیا خبره دا ده چې بیا هم د ډرامې تسلسل قائم پاتې شي..."(**14**).

د افضل رضا د دې بیان نه ښکاره شوه چې کۀ ډرامه کښې د وحدت زمان ( وخت) خیال اونۀ ساتلی شي او ډېره اوږده شي نو بیا هم ډرامه وي او د اوږدوالي په وجه ډرامه مونږ د ناول په صنف کښې نۀ شو شمارلی.

۲. د ننداړو یا قسطونو تعین په کښې نۀ دی شوی:

"د سرو تعویذ"قیصه لکه د ناول نېغ په نېغه د مکالمو په شکل کښې مخکښې وړلې شوې ده او د ننداړو خیال په کښې نۀ دی ساتلی شوی خو کۀ په غور ولوستلی شي نو د ننداړو واضح فرق او ځایونه په کښې موندلی کېدی شي.دا هېڅ خبره نۀ ده چې دهقان ئې د ننداړو تعین نۀ دی کړی نو په دې وجه ئې مونږ د ډرامې له صنف نه وغورزوو.کۀ دا ډرامه چا تکړه پروډیوسر ته په لاس ورغله نو د ننداړو داسې تعین به په کښې اوکړي چې د ټي وي یا رېډیو د هرې دورانیې پروګرام ته به په اسانه تیاره شي.

۳. قیصه ګوئي:

د ډرامې په ډېرو کمو ځایونو کښې قیصه د مکالمې برخېره د قیصه ګوئۍ یا په بیانیه توګه وړاندې بوتللې شوې ده.دهقان چونکې په رېډیو کښې سینئیر پروډیوسر وۀ نو لکه د یو پروډیوسر ئې "د سرو تعویذ"په لیکلو کښې هم پروډکشن کړی دی او پروډکشن ئې په قیصه ګویۍ کښې کړی دی.کۀ اوکتی شي نو دې سره ډرامه د ضخامت نه ساتلې شوې ده او خوند او اختصار په کښې پېدا شوی دی.یعني په کومو ځایونو کښې چې پلاټ کښې داسې ځایونه راغلي چې

هغه د ډېر وضاحت متقاضي نهٔ وو نو هغه ځايونو کښې د مکالمې برخېره د قيصه ګويۍ يا بيان نه کار اخستی شوی دی لکه په مخ ۲۵، ۲۴، ۲۳ چې پينځهٔ کالن جمشيد له کوره تښتي او د سپټ کور ته رسي نو واقعه لکه د ناول په بيانيه توګه بيان شوې ده خو کهٔ وکتی شي نو دلته د مکالمې نهٔ ضرورت شته او نهٔ هېڅ جواز جوړېږي او بله دا چې اکثر په ډرامو کښې داسې کېږي، نو په دې وړه غوندې خبره که څوک "د سرو تعويذ" د فن په لحاظ د ډرامې د قطار نه وباسي نو سمه نهٔ ده.

د "د سرو تعويذ" فني مطالعه:

دا خبره خو ښکاره ده چې د "د سرو تعويذ" ډرامه ده نو اوس مونږ د ډرامې په فن خبره کوو بيا راځو د "د سرو تعويذ" په فن باندې خبره کوو.

ډرامه زمونږ مخې ته په څلورو ډولونو وړاندې کوله شي. سټيج، سکرين، ريډيو (اواز) او په تحريري بڼه نو د دې څلورو ډولونو خپل خپل فنون او قواعد او ضوابط دي.د سټيج په ذريعه کامياب ډرامه هغه وي چې د ارسطو لخوا ټاکل شوي درې وحدتونو باندې پوره وي.د سکرين په ذريعه چې کومه ډرامه وړاندې کوله شي نو په هغې کښې بايد اداکاران تکړا او تجربه کار وي،يعني چې اداکاران د خان، بادشاه،ډاکټر يا چې کوم کردار ورکړل شوی وي هغه کردارونه په ښهٔ ډول ادا کولی شي د ريډيو يا اواز په ذريعه چې کومه ډرامه وړاندې کوله شي په هغې کښې کاميابي د صداکارانو د اواز سره تړلې ده کهٔ چرې يو کردار د بوډا سړي وي او صداکاران دغه اواز نهٔ شي ادا کولی نو ډرامه به کامیابه نهٔ وي.څلورمه بڼه د تحريري شکل ده چې دې کښې نهٔ سټيج وي،نهٔ سکرين او نهٔ اواز،نو دلته د ډرامه نګار د پاره مشکل دا وي چې کهٔ هغه په لفظونو کښې د سټيج منظرونه،د سکرين د پاره تصويرونه يا منظرونه او د ريډيو د پاره د اوازونو هئيت په لفظونو کښې بيانوي نو بيا ډرامه د ضحامت ښکار کېږي او د لوستونکي د بوريت سبب هم ګرځي،نو ډرامه نګار مجبور وي چې د زيات وضاحت نه ډډه وکړي او په لږو ټکو کښې دا هر څهٔ بيانوي.

د "د سرو تعويذ" چونکې په تحريري بڼه کښې ده نو په دې کښې هم د دغې غېر ضروري بيانونو نه ډډه شوې ده.ډرامه چې په تحرير کښې راشي نو بيا انحصار په پروډيوسر باندې وي چې هغه ئې د سټيج، سکرين يا ريډيو د پاره په

کامیابۍ سره وړاندې کړي او پروډیوسر د ډرامې قیصه اوپېژني چې ایا قیصه د کلي وال چاپېرچل سره تعلق لري او کهٔ د ښار سره؟ ایا قیصه د چیني ماحول سره تعلق لري کهٔ امریکني ماحول سره ؟ایا قیصه تاریخي ده او کهٔ سائنسي؟کهٔ چرې پروډیوسر د قیصې ماحول وپېژني نو هغه به د هغې مطابق منظرونه، لباسونه او باقي ضروریات پوره کوي کوم چې د ډرامه نګار په ډرامه کښې هدایت کړي وي.

د ډرامې څو لازمي توکي:

د ډرامې څو لازمي توکي چې ډرامه جوړوي په دې ډول دي:

ا. قیصه او پلاټ ب. کردارونه ج. مکالمې

ا. قیصه او پلاټ:

عموماً مونږ قیصه او پلاټ یو څیز ګڼو خو ولې دا یو څیز نهٔ دی بلکې په دې کښې لږ غوندې فرق دی لکه هره قیصه کښې پلاټ خو وي ولې ډرامائي رنګ په کښې نهٔ وي د مثال په توګه سیاسي،مذهبي یا سائنسي قیصې چې پلاټ خو لري ولې د ډرامې مواد په کښې نهٔ وي.د قیصې او پلاټ د فرق په حقله افضل رضا لیکي:

" قیصه د واقعاتو مسلسل بیان ته وائي او پلاټ د واقعاتو ترتیب او جوړښت ته وائي"(**15**).

پلاټ اصل کښې د یوهٔ ډرامه نګار په ذهن کښې یوه ذهني خاکه وي چې د قیصې د واقعاتو ترتیب په کښې موجود وي د پلاټ دوه قسمونه دي.ساده او مرکب.ساده پلاټ هغه وي چې په هغې کښې یوه قیصه مخ په وړاندې بوتلې شي او تر انجامه رسي.مرکب پلاټ کښې د مرکزي قیصې سره نورې وړې وړې قیصې هم ملګرې شي او مخ په وړاندې تر انجامه رسي.په ډرامه کښې عموماً ساده پلاټ غوره ګڼلی شي او د " د سرو تعویذ" پلاټ مرکب پلاټ دی.چې د پلاټ کمزوري یې ګڼلی شو.

د ډرامې پلاټ:

د ډرامې پلاټ څنګه په کار دی؟دې د پاره پوهانو یو خط ټاکلی دی چې ورته ډرامائي خط وئیلی شي . دا ډرامائي خط کهٔ څهٔ هم حتمي نهٔ دی ولې د ډرامې څهٔ نه څهٔ فن ضرور په ګوته کوي.ډرامائي خط په دې ډول دی.

۱. اغاز ۲.پرمختګ ۳. کمال یا کلائمیکس ۴. تنزل ۵.انجام ( د ښي نه ګس لوري ته)

د ډرامې قیصه چې کله شروع شي او رو رو پرمختګ کوي نو مونږ ته رو رو کردارونه او د دوئي کشاله یا تصادم راښکاره کېږي او مونږ سره معرفي کېږي.قیصه د دغې کردارونو په ذریعه مخکښې روانه وي او چې قیصه ( ډرامه) نیمائي ته ورسي نو قیصه یوې انتها ته ورسېږي په دغې انتها یا کلائیمکس کښې مونږ ته دا پته ولګي چې د خېر او شر فیصله کېدونکې ده،دغه ځای به تماشګیر صفا ووینې چې اوس به قیصه د تنزل په لارو ورسمه شي د دې مرحلې نه پس کشاله یا تصادم رو رو ختمېږي او انجام ته ورسي د خېر او شر فیصله وشي،څوک ګټه وکړي او څوک بېلات مومي او قیصه(ډرامه)ختمه شي.د دې ټولو سره تړلې تلوسه ده چې لیکوال به ئې تر اخره ساتي کۀ چرې د ډرامې په اغاز یا مېنځ کښې تماشبینو ته پته ولګي چې قیصه څۀ ده او انجام ئې څۀ دی؟ نو په ډرامه کښې به خوند پاتې نۀ شي.

اوس کۀ د" د سرو تعویذ" پلاټ په دغه ډرامائي خط یا پیمانه تلو نو سل فیصده پوره ده.اغاز او پرمختګ د تصادم او کشالې ډک دي لکه د ډرامې په وړومبو څو پاڼو کښې د هیرو جمشېد او د دۀ ترۀ شمروز خان کشاله شروع شي قیصه رو رو مخکښې ځي،کردارونه په کښې راښکاره کېږي او مونږ سره معرفي کېږي او ډرامه کلائمېکس ( د تجسس انتها) ته رسي.

**کلائمېکس**:

کلائمېکس د تجسس یا تلوسې انتها ته وئیلی شي او تلوسه په افسانوي ادب کښې د هغه کېفیت نوم دی چې لوستونکي یا کتونکي او اورېدونکي په دې سوچ اخته کړي چې اوس به څۀ کېږي؟دا به بیا څۀ کېږي؟..."د سرو تعویذ" کلائمېکس د ماه جابینې ناڅاپي مرګ دی. کلائمیکس د ډرامې په نیمائي کښې په کار ده څنګه چې په ډرامائي خط کښې ښودلې شوي دي او نن سبا کۀ د هندي او اردو ډرامو یا د فلمونو قیصو ته وګورو نو په هغې کښې کلائمېکس د قیصې په نیمائي کښې او یا د قیصې نه لږ وړاندې روستو وي.دهقان هم د "ماه جابینې"د مرګ خبر په مخ ۲۲۹ ورکړی دی چې د ۴۲۰ مخونو د نیمائۍ نه لږ

روستو جوړېږي.دې ته کامیاب کلائمېکس وئیلی شي چې نۀ پوره په اغاز کښې وي او نۀ بېخي په اخر کښې.د ماه جابینې د مرګ نه روستو قیصه د تنزل په طرف روانه شي او انجام ته رسي.

**انجام**:

پوهان وائي چې انجام منطقي په کار دی چې د تماشبینو یا لوستونکو د نفسیاتو او خواهشاتو مطابق وي لکه د مثال په توګه کۀ چرې "هیرو" په اخر کښې مړ شي نو تماشبینو ته یو قسم صدمه ورسي ولې چې دا انجام د دوئي د توقع خلاف وي."د سرو تعویذ"انجام منطقي دی ولې خوندور نۀ دی ځکه چې یو خو د فرید خان او شېر خان قاتلان معلوم نۀ شي او بله دا چې هیرو جمشېد هم نیمګړې نیمه خوا پاتې شي.خپله مینه ورته ترلاسه نۀ شي او نۀ ئې بیا د بل چا سره مینه پېدا شي.

داسې ښکاري چې د ډرامې په لیکلو لیکلو د دهقان ساه لنډه شوې ده او کوشش ئې کړی دی چې هرقسم چې وي چې قیصه نوره ختمه شي.اګرچه تجسس تر اخري پانړې برقرار ساتلی شوی دی.په کار خو دا وه چې قاتلان هم معلوم کړی شوي وی او جمشېد ته څوک جینۍ هم په زړۀ ورغلې وې،چې باقي ژوند ئې په خندا په خوشحالۍ تېر شوی وی.

**د سرو تعویذ قیصه**:

جمشېد چې اصلي نامه ئې ناصر خان وي.د یو خان زوی وي.دی پینځۀ کالن وي چې پلار ئې وفات شي نو د دۀ ترۀ شمروز خان د خانۍ په لالچ کښې جمشېد له مېنځه وړل غواړي.دا پته چې د جمشېد خور جمیلې او نوکرې صابرې ته ولګي نو هغه یوه منصوبه جوړه کړي.په زرګر باندې یو تعویذ جوړ کړي چې په هغې کښې په کاغذ باندې د جمشېد شجره نسب او جائیداد ولیکي او په تعویذ کښې ئې بند کړي جمشید ته ئې ورپه غاړه کړي او جمیله ورته وائي چې له دې کلي لرې لاړ شه دلته شرمخان راځي او دا تعویذ به چا ته هم نۀ ښائې چې کله لوئي شې نو بیا به دا هله خلاصوې.پینځۀ کالن جمشید د کلي نه لرې تښتي او ښار ته رسي.دېخوا شمروز د دوئي په کور ډاکه اچوي او جمیله او صابره په کښې مري.جمشېد ښار ته رسي.په ښار کښې د یو سېټ (سیټھ) کور ته رسي او دلته په

چمن کښې په مېز باندې اودۀ کېږي.سحر چې سبېټ له کوره وځي نو په دې ماشوم ئې نظر لګي.سبېټ خپلې مېرمنې ته وائي چې دا ماشوم څوک دی او له کومه ځايه راغلی دی.د سبېټ ټبر چې ماشوم ته ګوري نو خپل مړ شوی زوی جمشېد وریادېږي ولې چې ناصر د جمشېد همشکل وي.د سبېټ ټبر ناصر ته د جمشېد نامه ورکوي او د خپل دويم ژوندی زوی رېحان په شان ورسره مينه شروع کوي.سبېټ رحمان په جمشېد باندې تر ځوارلسمه سبق ووائي او د وکالت ډګري هم ترلاسه کړي ورسره په پوليس کښې افسر هم ولګي.

يوه ورځ جمشيد مور ( د سبېټه ټبر) ته وائي چې مورې هغه تعويذ خو راواخله چې وګورو ملا څۀ په کښې ليکلي دي.مور ئې تعويذ راخلي او جمشېد ئې پرانزي چې کله هغه کاغذ لولي کوم چې خور ورته ليکلی وي چې په هغې کښې دی د خان بچی او د ډېر جائيداد مالک ليکل شوی وي نو سمدستي راپاځي او شمروزګړې (پلارنی کلی) ته راځي. دلته د رمضان زرګر تپوس کوي ولې چې په خط کښې ئې دا هم ليکلي وي چې دا تعويذ رمضان زرګر جوړ کړی دی.جمشېد چې کله زرګر ته تعويذ ښائي چې دا تا جوړ کړی نو زرګر پوره تفصيل ورته بيان کړي چې دا ما هغې جينۍ او مشرې ښځې ته جوړ کړی وۀ چې په هغه ډاکه کښې وژلې شوې وې . . . رمضان زرګر پوره تفصيل جمشېد ته ورکوي چې دا خاني د شمروز حق نۀ وۀ ولې هغه ماشوم ورارۀ ئې لا ورک دی.د خانۍ اصلي حقدار هغه دی.د شمروز او د دۀ زامنو نه ټول کلی په تکليف وي . . .جمشېد په چل ول او د قانون په دائره کښې د ننه د دوي خلاف داسې اقدامات وکړي چې د دوئي نام و نشان ختم شي. . .د ترۀ جائيداد اولس ته وقف کړي.په هغې باندې سکول او هسپتال جوړ کړي او خپل جائيداد د صابرې زوی معظم ته حواله کړي.جمشېد خاني نۀ غواړي او د سبېټ سره په کور کښې خوښ وي.ځان د سبېټ رحمان زوی بولي. . .يوه ورځ ورته د پوليسو جرنېل ټېليفون وکړي چې د چشمې کلي مفرور جبار ونيسه.جمشېد چې چشمې کلي ته په جبار پسې لاړ شي نو هلته جبار خو ونيسي ولې په دې کلي کښې په ماه جبينه نامې جينۍ زړۀ وبېلي.د ماه جبينې سره د جمشېد کوژدن وشي خو څۀ موده پس په هوائي ډزو کښې مړه شي. . .دا صدمه جمشېد ډېر بد حاله کړي خو اخر روغ شي.

یوه ورځ جمشېد ته معظم خبر ورکړي چې د چشمې کلي زمان خان چې اوس اوس د جېل نه ازاد شوی دی وائي چې په شېر افضل یا د دۀ د کورنۍ ځوک غړی به خامخا وژنم ولې چې زمان خان بې ګناه لس کاله قېد د شېر افضل د رور شېر خان د قتل په الزام کښې تېر کړی وي.د شېر افضل بل رور فرید خان د وادۀ په شپه مړ شي نو الزام په زمان خان ولګي او پولیس زمان خان بیا ونیسي. جمشېد چې کله تحقیقات شروع کړي نو په دې پوي شي چې فرید خان زمان خان نۀ دی وژلی بلکې یا ئې په خپله ځان مړ کړی دی او یا خان محمد وژلی دی.دا کېس روان وي خو جمشېد ته هېڅ شهادت په لاس نۀ ورځي چې فرید خان ځنګه مړ شوی وۀ.اخر معظم او زرینې سره فیصله وکړي چې د ناوې بیان دې واخستل شي، خو د بیان نه مخکښې ناوې زهر وخوري. . ناوې هسپتال ته راوړله شي چې روغه شي نو زرینه ترې بیان واخلي.ناوې په خپل بیان کښې ووائي چې فرید خان په خپله ځان وژلی دی خو زمان خان دا خبره په یو قیمت هم نۀ مني.داسې ښکاري چې ناوې دې بیان ورکولو ته مجبوره شوې وي . جمشېد د پاره اخر خان محمد یو داسې سړی پاتې شي چې هغوي ته د فرید خان او د دۀ بل رور شېرخان قاتلان،کېدی شي معلوم وي. .خو هغه د پولیسو په حوالات کښې ځوک ووژني او قیصه ختمه شي.

## ب . کردارونه:

کردارونه د کردار جمع ده.کردار په لغت کښې روش،سیرت،فعل،عمل او کار ته وائي ولې په ډرامه کښې د کردارونو نه مراد د ډرامې کارکونکي،سړي یا اداکاران دي.کردارونه د پلاټ تابع وي او تصادم یا کشاله د کردارونو په ذریعه راځي، کۀ پلاټ کښې تصادم وۀ نو کردارونوکښې به تصادم خامخا راځي. کردارونه په دوه ډوله وي.متحرک او جامد .متحرک هغه وي چې د قیصې د اغاز نه تر انجام پورې د وخت سره بدلېږي رابدلېږي او جامد هغه وي چې په خپل ځای ولاړ وي او په ډرامه کښې څۀ خاص رول نۀ لوبوي لکه " د سرو تعویذ" کښې د صابرې، جمیلې، سېټ او د سېټ ټېر جامد کردارونه دي.

په دې ډرامه کښې ګڼ شمېر کردارنه دي چې د غېر ضروري کردارونه ذکر مناسب نۀ ګڼم.

جمشېد: مرکزي کردار ( هیرو) . خپله نامه ئې ناصر خان وي.او د پولیسو کپېټن وي.

جمیله: د جمشید خور

صابره: د جمشید د کور نوکره

معظم: د صابرې زوی او سائیډ هیرو.

شمروز خان: د جمشېد ترۀ چې د جمشېد خور او نوکره ووژني او د جمشېد په کور ناجائزه قبضه وکړي .

سرکش:

د شمروز زوئی. قاتل،ډاکو او د زرګر د لور قاتل . د زرګر لور د سرکش خوښه وي . خو ولې مینه نۀ ورسره لري ځکه ئې ووژني بله وجه ئې دا هم وي چې د جمشید د شمروز د کورنۍ په اړه معلومات د زرګر او د دۀ لور نه حاصل کړي وي.

مشال:

د شمروز زوی او د جمشېد د ترۀ زوی. په خوي خصلت د سرکش غوندې وي.

نوروز:

د شمروز زوی.د سرکش او پلار شمروز غوندې بې تعلیمه،غل،ډاکو او بدمعاش وي.

زرینه:

د کلي ډمه او سائډ هېروئن چې د جمشېد سره د سرکش، مشال او نوروز په نیولو کښې لویه مرسته وکړي. شمروز خان او د دۀ درې واړه زامن وخت په وخت د زرینې عاشقان هم پاتې شوي وي.اخر کښې معظم سره وادۀ وکړي.

زرګر: د کلي زرګر. خپل نوم يې رمضان وي .

کلثوم: د یو وکیل لور چې جمشېد سره ډېره مینه لري ولې جمشید ورسره مینه نۀ لري او اخره کښې بل چا ته وادۀ شي .

ماه جبینه: د یو غریب کروندګر لور، چې د ښائیست ئې ډېر شهرت وي . د جمشېد چنغله شي او هوائي ډزو کښې مړه شي .

جبار: مفرور،قاتل، حسن پرست چې د چشمې کلي "ماه جبینه "باندې مئېن وي . د جبینې پلار هم ووژني او د جمشید د لاسه ګرفتار شي .

زمان خان: د چشمې کلي سره تعلق لري. دا کردار هم په کښې د سائیډ هیرو نه کم نۀ دی . زمان خان د شېرافضل رور شېرخان د قتل په الزام کښې بې ګناه لس کاله قېد شي چې راخلاص شي نو د شېرافضل بل رور فرید خان د وادۀ په شپه مړ شي او الزام بیا په دۀ باندې ولګي . پولیس زمان خان بیا ونیسي خو جمشېد د دۀ په لوري وي ولې چې دا قتل هم زمان نۀ وي کړی .

شېرګل: د پولیسو حوالدار

فرید خان: د شیرافضل رور او د زمان خان کلک ملګری . د وادۀ په شپه ئې څوک مړ کړي .الزام په زمان خان ولګي .

خان محمد: د شېرخان اوخښې. د فرید خان د قتل په الزام کښې دی هم ګرفتار شي . ښکاري داسې چې د فرید خان په قتل کښې دوي یا ککړ دي او یا قاتل دی . دوي په اخر کښې په کښې ووژلی شي او د فرید خان د قاتل یوائینی ګواه هم دوئي وي . دا رقم د فرید خان د قاتل پته اونۀ لګي .

## ج. مکالمې:

په لغت کښې مکالمه یو بل سره خبرې کولو ته وائي.په ډرامه کښې مکالمه د کردارونو یو بل سره خبرو ته وائي او مکالمه نګاري د کردارونو په ژبه کښې خبرې کولو ته وائي.

د مکالمې د کردار سره ژور تعلق دی،مکالمه د کردارنو اوصاف په ګوته کوي،یعني د کردار ،معاشرتي،معاشي،سیاسي،مذهبي او یا علمي وغېره مقام په ګوته کوي.کامیاب ډرامه نګار هغه دی چې د مختلفو طبقو خلقو د لهجو او انداز بیان نه خبر وي یعني د نشئي د خبرو کولو انداز ئې هم زده وي او د بادشاه، ملا،ګدا وغېره د لهجو او خبرو هم.په دې حقله رشید احمد صېب وائي:

" مکالمه کۀ یو اړخ ته د ډرامې پلاټ ښکاري کوي،د هغې وضاحت کوي نو بل اړخ ته د کردار په انفردیت او اوصافو هم رڼا اچوي . مکالمه په درې ډوله په کردارسازۍ کښې خپله برخه ترسره کوي .

۱. یو کردار د بل سره خبرې کوي .

۲. نور کردارونو د یو خاص کردار په حقله خبرې کوي .

۳. خود کلامي ( یو کردار د ځان سره خبرې کوي"(**16**).

" د سرو تعویز" مکالمو ته کهٔ وګورو نو دهقان په کښې کامیاب شوی دی،مکالمې لنډې او د روزمره مطابق دي.په ځینو ځایونو کښې مکالمې اوږدې شوې دي او د هغې وجه د ضمني قیصو ده چې ځای په ځای په کښې ورګډې شوې دي خو داسې په ډېرو کمو ځایونو کښې شوي د. "د سرو تعویذ"مکالمې کردارونه په خپله څرګنده وي چې ورته د دهقان کامیابي وئیلې شو ولې چې ډرامه په تحریري بڼه ده او د لفظونو په ذریعه د کردار اوصاف یا شخصیت ښودل د ډرامه نګار فنکاري ده .

د "د سرو تعویذ" ګنې مکالمې شته چې د روزمره مطابق دي او د کردارونو د شخصیت شناخت او څرګندونه هم کوي،اوصاف ئې په ګوته کوي لکه په لاندې مکالمه کښې کهٔ یو خوا د دهقان شخصیت او قادرالکلامي په نظر راځي نو بل خوا د زرینې او نوروز کردارونه هم،په کښې خپل شخصیتونه ښکاره کوي.په دې اقتباس کښې مونږ کتلی شو چې دهقان د ډمې (زرینه) ژبه او اندازِ بیان نه هم خبر دی او د قاتل،ډاکو (نوروز) ژبه ئې هم ذده ده چې د کامیاب ډرامه نګار نخښې دي.د دې مکالمې په وخت زرینه د پولیس سره ملاؤ وي او پولیس سره د نوروز په نیولو کښې مرسته کوي.معظم د کوټې په چت ناست وي او ریکارډنګ مشین ئې هم لګولی وي چې د نوروز خبرې د ثبوت د پاره ریکارډ کړې شي:

" نوروز: زرینې هار دې مبارک شه .

زرینه: مهرباني. . .ژوندی اوسې خان . . . مبارکي خو تا د وخته راکړې ده.

نوروز: خبر دی بیا سهي.

زرینه: خان یو تپوس درنه کوم.

نوروز: وایه. . .زر وایه.

زرینه: تا د هار د پاره پیسې د چا نه اخستې وې؟

نوروز: ما د هېچا نه قرضه مرضه نهٔ ده اخستې.

زرینه: ما وئیل کهٔ د مشر خان نه دې پیسې غوښتې وي نو لا به په قهر شوی وي.

نوروز: د هغهٔ پېریانو ته هم پته نشته.

زرینه: نو بیا به دې د چا یار دوست نه قرضه اخستې وي. . .

نوروز: قرض، پور او زهٔ.

زرینه: نو دا هم نهٔ شم وئیلې چې ګني جواري دې ګټلې ده.
نوروز: داسې ئې وګڼه.
زرینه: خان!. . .تا خو زما نه هېڅرې هم خبرې نهٔ دي پټې ساتلې.ماته صفا حال ووایه.
نوروز: زرینې تهٔ غواړې څهٔ؟
زرینه: زما دې خلهٔ ماته شي چې زهٔ ستا نه څهٔ غواړم. . .زهٔ یم څوک. . .ډمه. . .
نوروز: ستا د تېوسونو ځواب خو ما پوره پوره درکړو،نور څهٔ غواړې؟
زرینه: تا تر اوسه زهٔ په خپل راز کښې شریکه نهٔ کړم ځکه چې زهٔ د دې قابله نهٔ یم لکه د نورو خلقو ستا په نظر کښې هم زهٔ ذلیله ډمه یم.
نوروز: نا ! زهٔ وایم چې هسې نه تهٔ زما نه نفرت شروع کړې.
زرینه: زهٔ او ستا نه نفرت.
نوروز: ښهٔ ده چې خامخا ضد کوې. . . نو. . .دا د رمضان زرګر دی. . . رمضان زرګر چې مونږ ووژلو نو دا په لاس راغلل.
زرینه: رمضان زرګر تاسو وژلی وهٔ؟
نوروز: او سرکش وهٔ،زهٔ وم او مشال وهٔ. . .زرګر ما وژلی وهٔ، لور ئې مشال وژلې وه.
زرینه: اُف. . .خان ! دا ولې؟
نوروز: رمضان زما د مشر رور بې عزتي کړې وه.
زرینه: او د لور ئې څهٔ ګناه وهٔ؟
نوروز: هغه زما د مشر رور خوښه وه.
زرینه: چې خوښه ئې وه. . .نو بیا ئې څهٔ له وژله؟
نوروز: څهٔ اووایم زرینې. . .
زرینه: هن. . ."(17).

زما په نزد څومره چې "د سرو تعویذ"موضوع یا قیصه خوندوره ده دومره ئې مکالمې چستې،جاندارې او خوندرې دي.په دې مکالمو کښې ځای په ځای تپې،محاورې او متلونه هم بر محل او د موقعې په مناسبت سره استعمال شوي دي.

**خلاصه**:

د" د سرو تعویذ" فني مطالعه کښې مونږ ولیدل چې دغه اثر په فني لحاظ ډرامه ده،نۀ چې ناول او بیا د ډرامې فن باندې څومره پوره ده دا مې هم ولیدل.پلاټ کښې ئې لږې کمزورۍ شته او هغه دا چې ځینې ضمني واقعات ئې ورسره ګډ کړي دي چې د دې په وجه پلاټ کښې پېچیدګي راغلې ده د دې پېچیدګۍ یوه بله وجه دا هم ده چې ځینې واقعات په غېر ضروري توګه دومره غزول شوي دي لکه د ناول،ناول چې د هرې واقعې ښۀ مفصل ګنجائش لري ولې په ډرامه کښې داسې غزول شوي واقعات د لوستونکي د بوریت سبب ګرځي.د ناول او ډرامې په فرق کښې د اختصار خبره هم ده یعني ناول ښۀ اوږدېدی شي ولې ډرامې کښې د کتونکو، لوستونکو یا لوستونکو د وخت او مزاج خیال هم ساتل کېږي.د دغې بوریت بله وجه د لوستونکي ذوق هم کېدی شي،ځینې خلق د زیاتې مطالعې عادتي وي او ځینې د کمې مطالعې.دریمه وجه ئې د بابونو یا نندارو نیشتوالی دی چې لوستونکي ئې د مطالعې حدود نۀ شي ټاکلی.د دې ځینې خامیو باوجود هم په ډرامه کښې د تاثر وحدت قائم او برقرار ساتلی شوی دی چې په فني لحاظ د دهقان کامیابه ډرامه نګاري په ګوته کوي.

## حوالې


(1) عابد، عبدالله جان، ډاکټر، پېښور، پشتو زبان و ادب کی مختصرتاریخ،یونیورسټي پبلشرز، ۲۰۰۶، مخ: ۳۲۱

(2) کمال، مصطفي، پښتو ډرامه، چارسده،ملت ایجوکیشن، ۲۰۱۴، مخ: ۵۵،۵۶

(3) لار، مجله، پېښور، تنقید نمبر،۸۔۹ گڼه، اګست،ستمبر ۱۹۵۸

(4) صابر، ایوب، جدید پشتو ادب (اردو)،شاهین برقي پریس،جون ۱۹۷۴، مخ: ۱۶۸

(5) قرېشي، اسد، سوېلي ستوري،پېښور،حمیدیه پرنټنګ پریس، ۱۹۷۲، مخ: ۱۵۴

(6) بېنوا، عبدالرؤف، مجله کابل، ۱۳۴۰ عقرب، مخ: ۴۰۴

(7) انیتا اعظم، ډاکټر،مشموله،جهان عالم،ډاکټر،پروفېسر،"پښتو ادب په یو نظر کښې"،پېښور، عامر پرنټ اینډ پبلشرز، ۲۰۱۸، مخ: ۲۱۴

(8) میاشتنۍ، لار، یکم مئ ۱۹۵۸، مخ: ۲۹

(9) حنیف خلیل،ډاکټر، پشتو ادب کی مختصر تاریخ ( ایک خاکه)، یونیورسټي بک ایجنسي، ۲۰۰۹، مخ: ۲۷۴

(10) حنیف خلیل، پښتو ناول ( تحیقیقي او تنقیدي جائزه)،،ملت اېجوکیشنل پرنټرز، لاهور، وړومبی چاپ، جنوري ۲۰۰۰، مخ: ۴۱

(11) افضل رضا، ډرامه، پېښور، یونیورسټي بک اېجنسي، څلورم ځل ۲۰۱۷، مخ: ۱۴۳

(12) دهقان،رشید علي،"د سرو تعویذ"، اداره فروغ تعلیم،غله منډي،پېښور صدر،مخونه: ۳۷۳، ۳۷۲

(13) افضل رضا، ډرامه،مخ:۱۶۷

(14) هم دغه، مخونه: ۱۶۸، ۱۶۷

(15) هم دغه، مخ: ۱۸۹

(**16**) رشید احمد، پښتو ډرامه (فن،پلټنه او کتنه)،پېښور،عامر پرنټنګ پرېس،ستمبر ۲۰۱۶، مخ: ۵۷
(**17**) د سرو تعویذ ،مخونه: ۱۱، ۱۱۳، ۱۱۲